SHARIAT

شریعت

اوونیزه

په اوونی کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتي ارګان

پنځم کال ۸٦ ګڼه پرله پسې(۳۷۳) سه شنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د شعبان المعظم (۲۵)

د۱۳۷۹هـ ش کال د لندی دمیاشتي(۱)د ۲۰۰۰میلادي کال د نوامبر (۲۱)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ چې هغه (عدل) دیر نږدی دی تقوا(پرهیز ګاری) ته

(سورة المائدة)

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتي بگذارید.

د اطلاعاتو او کلتور محترم وزیر د یوه مطبوعاتی کنفرانس په ترځ کی وویل :

په هیواد کی د ټولو میشتو اوسیدونکو حقوق خوندی دی

کابل - باختر :

د اطلاعاتو او کلتور وزیر محترم مولوی قدرت الله جمال پرون مازدیګر په یو مطبوعاتی کنفرانس کې وویل : په هیواد کې د ټولو میشتو اقلیتونو حقوق تامین او خوندی دی او زمونږ شیعه وروڼه په عملی توګه د اسلامی امارت د لوړو هدفونو د دفاع په سنګرونو کی ولاړ دی.

د اطلاعاتو او کلتور محترم وزیر دغه مطبوعاتی کنفرانس په ترځ کې چې د کورنیو او بهرنیو ژورنالستانو په ګډون د باختر اطلاعاتی آژانس په لوی ریاست کی جوړ شوی و زیاته کړه : د افغانستان په اسلامی امارت کی د هیواد ټول اتباع د یوه پښتون حیثیت لري او په هیواد کې ټول میشته قومونه له برابرو حقونو څخه برخمن دي د پلچرخي له محبس څخه د یو سلو اوه دیرش بندیانو خلاصون چې د عالیقدر امیر المومنین د مهربانی او شفقت له مخې پرون خوشې شول د افغانستان د اسلامی امارت د انسانی او اسلامی سیاست ځرګندوی دی. د اطلاعاتو او کلتور محترم وزیر له خوشي شویو بندیانو څخه وغوښتل چې له دې زیات د جګړو د پیښو په تبلیغاتو و نه غولیږي او په عملی توګه خپل هیواد او خلکو ته د خدمت جوګه شي.

د اطلاعاتو او کلتور محترم وزیر د ژورنالستانو پوښتنو ته د ځواب په ترځ کې له هغو جهادی قوماندانانو څخه چې لا تر اوسه پورې د مخالفینو په لیکو کې ٤ مخ

د عالیقدر امیر المومنین د مهرباني له مخې:

۱۳۷ بندیان آزاد کړی شول

د ځرخي پله له محبس نه

له تاسو خوشي کړای شویو بندیانو څخه مو دا غوښتنه ده چې نور د مخالفینو په تبلیغاتو و نه غولیږي

د کورنیو چارو محترم وزیر

اسلامي امارت په ټول هېواد کي هېڅ راز قومي، لساني او منطقوي تبعیض ته قابل نه دي

د استخباراتو د لوی ریاست محترم مرستیال

آزاد کړای شوي بندیان دي په صادقانه توګه د اسلامي امارت تر څنګ ودریږي

د استاد اکبري استازي - ناطقي

کابل - باختر :

د عالیقدر امیر المومنین له بخښنې او مهرباني سره سم یو سلو اوه دیرش تنه بندیان پرون د پلچرخي له محبس څخه آزاد شول .

په هغې غونډه کې چې له همدی امله د پلچرخي محبس په انګړ کی جوړه شوی وه د اطلاعاتو او کلتور وزیر محترم مولوی قدرت الله جمال ، د کورنیو چارو وزیر محترم ملا عبدالرزاق اخند د استخباراتو د لوی ریاست مرستیال محترم ملا عبدالحق وثیق ، د ملی دفاع وزارت د اوپراسیون رئیس محترم مولوی اقا محمد ، د کورنیو چارو وزارت د جنایی جرمونو په خلاف د مبارزې رئیس محترم مولوی صدیق الله د پلچرخي محبس قوماندان محترم ملا شاه محمد او د کورنیو چارو د ملی دفاع او د عدلیې د وزارتونو یو شمیر چارواکو ګډون کړی و.

په دې غونډه کی لومړی د کلام الله مجید څو مبارک آیتونه ولوستل شول او وروسته د کورنیو چارو ٤ مخ

د کابل ښاروالۍ لومړي ناحیې په مربوطاتو کې:

د بریښنا یو برج بیا ترمیم او د استفادې وړ وګرځید

کابل - باختر :

د کابل ښاروالۍ لومړي ناحیې په مربوطاتو کې ...

٤ مخ

محترم قاضي القضات و رئیس ستره محکمه ا.ا.ا :

قضات محاکم باید در حل منازعات از اخلاص، اخلاق و دقت کامل کار بگیرند

شریعت : شورای عالي ستره محکمه تحت ریاست محترم مولوي نور محمد « ثاقب » قاضي القضات و رئیس ستره محکمه ا.ا.ا دیروز در مقر ستره محکمه دایر گردید.

ابتدا آیات چند از کلام الله مجید قرائت گردید.

بعداً محترم قاضي القضات و رئیس ستره محکمه روی موضوعات اجتماعي و مسایل قضایي کشور صحبت همه جانبه نمودند و در بخشي از ص ٤

گزارش خبرنګار «شریعت» از جریان سیمینار ۳ روزه دیپلوماتان وزارت امور خارجه در هوټل آریانا :

دیپلوماتان ما باید فهم سیاسي، قوه تحلیل و دید آینده نګری خوب داشته باشند

یګانه دلیل عدم برسمیت شناختن ا.ا.ا از جانب مجامع بین المللي ، عدم آګاهي آنان از ا.ا.ا مي باشد

کابل - شریعت :

اولین سیمینار دیپلوماتان وزارت امور خارجه ا.ا.ا که به منظور آګاهي ... ص ٤

مدرسه "امید" در کابل با امیدواري هاي فراوان افتتاح میگردد

شریعت - کابل

محترمه تاجور کاکړ رحیم یکتن از زنان نامور و مجاهد کشور که از طي ۱٦ سال بدینسو در دیار هجرت و پناهندګي بسر میبرد، اخیراً با مساعد شدن فضاي بهتر زندګي در کشور آسترالیا را به مقصد ص ٤

د عامی روغتیا وزیر ملا محمد عباس آخند

مونږ له هغو موسسو نه چې د ملاریا د ناروغی د له منځه وړلو زمینه یې کړی غواړو چې په عملي اقدام لاس پوری کړي

مونږ د ملاریا د ناروغی د له منځه وړلو لپاره بشپړ تیاری لرو

د عامی روغتیا وزارت معین محترم شیر محمد عباس ستانکزی

شریعت : په افغانستان کی د ملاریا د ناروغی د مخنیوی او له منځه وړلو په باب ورمه ورځ د ا.ا.ا د عامی روغتیا وزارت او د ملګرو ملتو د یو شمیر موسسو او ځانګو د استازو په ګډون په کابل هوټل کی یوه پراخه او پرتمینه غونډه جوړه شوه . په دی غونډه کی د عامی ۳ مخ

د کابل ولایت د چارآسیاب ولسوالی :

د برموسهی د پروژی د جوړولو کار پیل شو

کابل - باختر :

د کابل ولایت د چارآسیاب ولسوالی د برموسهی د پروژی د جوړولو کار پرون د یو لړ مراسمو په ترځ کی پیل شو .

ددغی پروژی کارچی ص ٤

د کاناډا د هیواد له کمشنر سره په کابل کی وکتل

کابل - باختر :

... ٤ مخ

محترم ملا عبدالله مدیر رئیس شرکت بیمه ملی افغان در مصاحبه با «شریعت» :

نخستین قانون بیمه در سال (۱۳۵۳) نافذ شد

به اساس این قانون سهم انګلیس توسط سهمداران افغاني خریداري ګردید

شریعت - ... ص ٤

د اطلاعاتو او کلتور وزارت محترم کلتوری معین د خپل کار په دفتر کی :

په اسلام آباد کی د کاناډا د سفیر په مشري د دغه هیواد له هیأت سره وکتل

کابل - باختر :

د اطلاعاتو او کلتور وزارت کلتوری معین محترم مولوی عبدالرحمن احمد هوتک پرون د خپل ٤ مخ

در تالار ریاست عمومی احیا و انکشاف دهات :

کورس تجدید معلومات و راهنمایي تدویر یافت

کابل - باختر :

کورس تجدید معلومات ... ص ٤

در نزدیکي یک شهرک صهیونیست نشین درنوار غزه :

یک بم قوي منفجر ګردید

به ګزارش آژانس خبري ارنا صبح دیروز یک بم قوی در نزدیکي یک شهرک صهیونیست نشین در نوار غزه منفجر شد. ص ٤

ایالات متحده امریکا علت افزایش ګازات را قطع جنګلات میداند

به ګزارش رادیو صداي آلمان ... ص ٤

وزراء دفاع کشور هاي عضو اتحادیه اروپا در جلسه شان :

تشکیل یک نیروي عکس العمل شدید را در اروپا مورد بحث قرار خواهند داد

به ګزارش رادیو بی بی سی وزراء دفاع کشور هاي عضو اتحادیه اروپا دیروز در بروکسل پایتخت بلجیم تشکیل یک نیروی عکس العمل سریع را در اروپا مورد بحث قرار دهند. ... ص ٤

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

تخار - د چور او تباهی نه د سولی او ودانی په لور

شاوخوا څلور میاشتي مخکی تخار د مخالفینو یوه مهمه اډه وه، بی نظمی، ګډوډی او د عام ولس په شتمنیو مال او ناموس ناروا تیری ورځنی معمول و خو د مظلوم د فریاد اوریدو ځای نه و مسافرو ته د لارو په اوږدو کی مشکلات او ځای په ځای د غلو او داړه مارو له خوا سخت ګواښونه متوجه و.

د تخار ولایت مرکز د څو کلو راهیسی د لاس ۲ مخ

شریعت

دتاسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»
مرستیال : غلام محمد فاروق
دبوي ګڼي بیه : په هیواد کي (۱۰۰۰) افغانی په پاکستان کی (۳) کلداری
پسټ بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ۲۱۳۸۱ توزیع و شکایات : ٦٢٨٥٩
جاري حساب : ٤٠٣٨٥/٧ د افغانستان بانك مرکز
چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالې پاڼې برخه

وهونکو هیوادو د هغو الوتکو ډګر و چې جګړه مارو ته یې دلې دلې وسلې او جنګې توکې راوړل . هلته د خطرناکو پرسونل ضد مینونو او نورو وژونکو موادو ډیپوګانې جوړې وې او هره شیبه یې د استوګنو ژوند ته مرګوني خطرونه پیښ کړې و د عامو وګړو ملکیتونه د زور ورو لاسونه ورغځیدلې او په ربړو سترګو به د ځمکو پیدا وار ترې وړل کیدل. د لویو لارو او پلونو د ورانولو لپاره د الوتکو د لویو لویو بمونو څخه کار اخیستل کیده . طالقانو ښار په خواً کې څو واړه پلونه او دبنګی لوی پل په همدې ډول لوټه لوټه شول. د مخالفینو سروالانو او مشرانو هر یوه ځان ته بیله پاچایی جوړه کړې وه او هیڅوک هم نه و چې د مظلوم ولس د حقوقو پوښتنه ترې وکړي. خو څنګه چې ملت هیڅکله هم د تل لپاره دا ډول ناړامه چلند نه شي زغملی او د پردو په اشارو لوبیدونکی ډلی او افراد د عام ولس له ویښو سترګو ځان نه شي پټولای او نه د ملت له خوښې او ملاتړ پرته څوک د ډیر مهال لپاره واکمنی کولای شي نو هماغه و چې د تخار ولایت د مجاهدینو او د هیواد د خواخوږو کسانو په مرسته د اسلامي امارت ځواکونو وکولای شول په لږ وخت کې ډیرې پراخې ساحې د ټوپک مارو له وجوده پاکې او بو بشپړ نظم او امنیت رامنځ ته کړي هلته قضایی محکمې فعالې او د بې دفاع ولس سر او مال خوندی کړي . تر څو بالاخره په تخار کې هم د هیواد د نورو ښارو په شان په چټکۍ سره د بیا ودانولو چارې پر مخ ولاړې شي په دې کې شک نشته چې اوس د خدای فضل دی د اسلامي امارت ټولې قانوني او اجرایوي اداری د هیواد په بیلا بیلو ولایاتو او ښارو کې ډیرې ښې فعالې او په نوموړو ښارو کې تر ډیره حده د خلکو ستونزې حل شوي دي نن سبا کې سړی د کندز، مزار، پلخمري، شبرغان او یا د لویو ښارو لکه هرات، کندهار، کابل او ننګرهار حالات وګوري نو په څرګنده به ووینی چې د مخالفینو په لاس کې د پاتې سیمو په نسبت دلته ډیر وضعیت بدل او ټول خلک په مینه او رغبت سره په خپلو کارو لګیا دي اوس دلته ډیرو بې روزګارو خلکو ته کار پیدا شوی، نظم او امنیت راغلی او هیڅوک هم چاته دا اجازه نه ورکوي چې د خلکو آرام او سوله ایز ژوند ګډوډ او د دښمنانو په لمسونو بو ځل بیا جنګی فضا را منځ ته کړي نو په دې ډول د اسلامي امارت تر واک لاندې سیمو حالات ډیر مثالي او داډمن دي او هر افغان کولای شي په بو سر سرې نظر هغه توپیرونه ووینی چې په نورو جنګي سیمو کې مسلط دي چې دا دي د بیلګې په توګه د تخار ولایت په مختلفو سیمو کې د بیا ودانولو چارې زمونږ ددې خبرې پخلی کوي په همدې ورځو کې د تخار دسړکونو په ترمیم او د بنګی د لوی پل په جوړولو ګړندی کار روان دی او دا هغه د عبرت ټکی دی چې د مخالفینو تر واکمنی لاندې سیمو کی اوسیدونکی خلک باید پام ورته راواړوي او هڅه وکړي تر څو خپلې اړوندې سیمې د هیواد د نورو سیمو په شان د بیا ودانولو، سولې او ثبات د کاروان سره یو ځای او د جنګ جګړو په ځای کار او فعالیت پیل کړي . د افغانستان اسلامي امارت له ټولو هیوادوالو سره د یو دغسې داډمن او نیکمرغه حالت د راوستلو وعده کوي نو په کار ده چې زمونږ مخلص هیواد وال هم په دې لوی ارمان کې خپل مسؤلیت ترسره او له اسلامي امارت سره لازمه مرسته وکړي.

د طالبانو بریالي فوځي ستراتیژي ته یوه کتنه

له بهرنیو منابعو څخه د عنایت الله کاکازاده ژباړه

پنځه کاله وړاندې چې کله طالبان له کندهار نه را پاڅیدل نو ډیر په چټکۍ سره یې نږدې په ټوله سیمه خپلې منګولې ټینګې کړې او د هیواد دننه حاکمو مخالفو ځواکونو بو په بل پسې جوخت وسلې په ځمکه کیښودې او یایې هم د تیښتې لاره غوره کړه او په دې ترتیب باندنیو لاس وهونکو کړیو داسې سپیره ماتې وخوړه چې ټوله نړۍ ورته ګوته په غاښ پاتې شوه هغه طالبان چې مورډ بې تجربې او له فوځي ستراتیژۍ نه بېخي نا خبره بلل څنګه په معجزانه ډول وتوانیدل چې په درنو وسلو سمبال جنایتکاره ډلې تېلې وځپي حقیقت دا دی چې دا هر څه د طالبانو د بریالی فوځي ستراتیژۍ کمال دی او بس.

د طالبانو د بریالیتوب او د هغوی د فوځي تکتیکونو په لورولي او کره توب د ښه پوهیدو لپاره په لنډه توګه لاندنې څیړنه اړینه بریښي :

لومړۍ مرحله : د کندهار غزني او جلال آباد د سیمو د نیولو نه وروسته طالبانو د شمال لوېدیځ خواته مخه وکړه او په ۱۹۹۷ میلادي کال کې یې د ټولې سیمې تر لاندې کولو وروسته د ایران د خطرناکې لاسوهنې له امله له هغه هیواد سره د افغانستان پولې وتړلې مګر ایران بیا هم په افغاني چارو کې لاسوهنه بنده نه کړه او د تاجکستان له لارې یې د شمالي ټلوالې پاتې شونو ته چې په مزار او هزاره جاتو کې یې بو څه تحرک درلود د الوتکو په وسیله فوځي سامانونه استول او په دې ډول یې د جګړې اور ته لمن وهله د غه مهال روسیې ، هند ، تاجکستان او ازبکستان هم د خپلو شومو غرضونو د لاسته راوړلو لپاره له ایران سره لاس یو کړ او خپلو لاسوهنو ته یې زور ورکړ .

دوهمه مرحله : طالبانو د ۱۹۹۸ کال د جون په میاشت کې د مزار شریف او هزاره جاتو په لوري پر مختګ پیل کړ او د پنځو میاشتو په موده کې یې د غه ټوله سیمه لاندې کړله د غو فتوحاتو سره سم د شمالي ټلوالې د وحدت مزي هم سره وشلیدل. احمد شاه مسعود د دغه حالت په لیدلو سره په خپله د ټلوالي د مشرتابه واګې په لاس کې واخیستلې مسعود چې لویدیځه نړۍ، روسیه، هند ، منځنی اسیا او نورو نړۍ ډیره بوه وتلې فوځي ستراتیژیست په بهه پیژنې د پنجشیر ، کندوز ، تخار او شمال ختیځ په سیمو کې خپل موقعیت بنه ټینګ کړ او بو ځل بیا یې طالبانو ته یو نوی چیلنج رامنځته کړ بو داسې چلینج چې طالبانو ورسره غاښ چیچل اړین ګڼل .

دریمه مرحله : مسعود په دې پوهیدلی وو چې طالبانو یې داخل د تغر د ټولو تابیا کړیده ځکه یې نو خپلو پالونکو ته چه لویه شمیره کې درنې وسلې او مهمات تر لاسه کړي وو او نږدې ګام په ګام یې د دفاع او جګړې تاکتیک طرحه کړې وو .

د ۲۰۰۰ کال د مې په میاشت کې طالبانو د کابل د شمالي جبهې له لارې وغوښتل چې ځانونه تر پنجشیره پورې ورسوي مګر په دغه کارونه توانیدل او په خپل ښځواني موقعیت کې یې د مورچو په ټینګولو لاس پورې کړه د سپتامبر په میاشت کې طالبانو د مسعود په خلاف داسې ډراماتیک پر مختګ پیل کړ چې د طالبانو د لوړي فوځي ستراتیژۍ بوه ښه بیلګه ګڼل کیدای شي دغه ډول تکتیک ته په فوځي ژبه کې د غیر

په اوسنیو شپو ورځو کې یې په دوشنبه کې په بوه ګډه کاري غونډه کې پریکړه کړیده چې افغانستان کې د جګړې اور باید مړ کیدا ته پرې نه ښودل شي او ددې هدف لپاره په کار دي چې د نظامي او لوژستیکي مرستو په ورکړه سره د طالبانو د مخالفینو ملا مضبوطه کړای شي خو له دې هر څه سره سره دا واقعیت په خپل ځای دی چې په افغانستان کې باندنی لاسوهنی په بو مخیزه ډول له

تورن دی مګر حقیقت خو دا دی چې پاکستان د خپلو نا اهله چارواکو له لاسه پخپله له یوې نړۍ ستونزو سره لاس او ګریوان دی . پاکستان د ۱۹۸۹ کال د جلال آباد له پیښو نه راوروسته په افغان چارو کې د تیغ په تیغه لاسوهنې نه ډډه کوي. پاتې شو د طالبانو د فوځي ستراتیژۍ ترشا د پاکستاني فوځ لاس نو دا ادعا هم لکه د نورو په څیر بیخي بې بنسټه ده ځکه د طالبانو او پاکستان فوځي

چین د افغانانو بو خوا خوږی دوست دی او د خپل دغه ټیټ ګاونډي هیواد اوضاع په ډیر دقت سره له نږدې نه څاري چین غواړي چې د افغانستان په بیا ودانولو کې خپل اخلاقي رسالت ترسره کړي . ودان او ټینګ افغانستان نه بواځې د چین اړتیا ده بلکې د سیمه ایز امنیت او استحکام د تامین تر ټولو لوی عامل هم دی.

مستقیمي تکنلوژی ستراتیژی وایي . طالبانو دا حل د کابل د شمالي جبهې نه نږدې د درې سوه کیلو متره لیرې په شمال لوېدیځ سیمو کې د ژورو او صعب العبوره لارو د ماتورو تاکتیک په کارولو او سختو لارو په وهلو سره د نهرین ، بورکه او اشکمش مهمې سیمې ونیولې او شمالي ټلواله یې د اکمالاتو او ټرانسپورټیشن له دریو خورا فوځي ارزښتمنو لویو لارو نه بې برخې کړه د دواړو وروسته ... ـیې د کـ ... او اشکمش په استقـ ... یې په پیل کړل چې په ... ـله کې ... د تالقان د مهم ... ګوي ... خنګ د خواجه غار امام ... صاحب او شیر خان بندر ... د ... سرنې طالبانو خپل پر مختګ ... دامه ورکړه او د اکتوبر د میاشتې تر نیمایي پورې یې د فرخار تنګي تر لاسه کړ مسعود ددغو ماتو له خوړلو نه وروسته خپل فوځي مرکز بهارک ته ولیږداوه .

د اکمالاتو د دریو لویو لارو له

ماتې سره مخامخ شوې دي په تیره بیا د افغانستان په اړه د ایران پالیسي خو له بوه سره د ماتو ، ناکامیو او ناقص سنجش بو شکاهکار ګڼل کیدای شي ازبکستان او تاجکستان چې ښځوایې د طالبانو د مخالفینو د هر ډول اکمالاتو دنده په غاړه وه اوس په دې واقعیت پوه شویدي چې په افغانستان کې لاسوهنه هیڅ ګټه نلري ازبکستان خو په وروستیو وختونو کې تر ډیره وړاندې تللی دی او د سوداګریزو فعالیتونو د پیل کولو لپاره یې له افغانستان سره د خپلو پولو د بیا پرانستلو اعلان هم کړیدی. واقعیت دا دی چې له افغانستان سره سوله او خبرې اترې هغه ګټوره نسخه ده چې د ګاونډیو هیوادونو لپاره ښه ګټور ثابتیدای شي روسیې د افغان تاجک پولې د ساتلو لپاره خپل پنځه ویشت زره فوځیان ځای په ځای کړیدي خو کله چې تیره میاشت طالبان د شیر خان بندر په نیولو وتوانیدل نو روسي عسکرو له ګډې

ستراتیژي بو له بله سره ژور توپیر لري. پاکستان خپل فوځ ته د عادي جګړه ایزو مهارتونو روزنه ورکوي په داسې حال کې چې طالبان بیخي له نظامي پلوه له امکاناتو تلې غیر عادي ستراتیژۍ پر مخ بیایي.

پاکستان له افغانستان سره د وروري او د اخوت تړون لري چې د هرې ګړۍ په تیریدا سره تور هم ټینګیږي خو دا تړون د حکومتونو تر منځ نه بلکې د ملتونو تر منځ دی.

چین د افغانانو بو خوا خوږی دوست دی او د خپل دغه ټیټ ګاونډي هیواد اوضاع په ډیر دقت سره له نږدې نه څاري چین غواړي چې د افغانستان په بیا ودانولو کې خپل اخلاقي رسالت ترسره کړي . ودان او ټینګ افغانستان نه بواځې د چین اړتیا ده بلکې د سیمه ایز امنیت او استحکام د تامین تر ټولو لوی عامل هم دی.

امریکا هغه وخت افغانستان کې د لومړي ځل لپاره له ماتې سره

د طالبانو اوسنیو فوق العاده او ډراماتیکو پرمختګونو روسیه ایران او تاجکستان سخت وارخطا کړي دي او په اوسنیو شپو ورځو کې یې په دوشنبه کې په بوه ګډه کاري غونډه کې پریکړه کړیده چې افغانستان کې د جګړې اور باید مړ کیدا ته پرې نه ښودل شي او ددې هدف لپاره په کار دي چې د نظامي او لوژستیکي مرستو په ورکړه سره د طالبانو د مخالفینو ملا مضبوطه کړای شي

لاسه وتلو نه وروسته شمالي ټلواله د خپلې بقا د تامین لپاره فوځي مرستې د درواز او اشکاشم له لارې نه تر لاسه کولای شي چې له بوې خوا ډیرې اوږدې او له بله پلوه صعب العبوره دي داسې بریښې چې طالبان به د اشکاشم او درواز د لارو د نیولو او د پنجشیر د درې د محاصره ساتلو په حال کې له ژمي نه وړاندې د فیض آباد په لوري خپل پرمختګ پیل کړي

د طالبانو اوسنیو فوق العاده او ډراماتیکو پرمختګونو روسیه ایران او تاجکستان سخت وارخطا کړي دي او

پولې نه په شاتګ پیل وکړ او د تاجکستان په دولتي کړیو کې یې دا پوښتنه را پیدا کړه چې ددغه ډول دوستانو نه څه ګټه چې پر سخت وخت کې دي په اصطلاح دښمن ته بواځې پریږدي اوس نو دا د تاجک حکومت اخلاقي دنده ده چې د ازبکستان په څیر له ازاد منشۍ او جرأت نه کار واخلي او کټ مټ داسې اعلان وکړي لکه ازبک ولس مشر اسلام کریموف ي چې وکړ . پاکستان له ډیرې مودې راهیسې په افغاني چارو کې په ژوره لاسوهنه

مخامخ شوه چې د شوروي اتحاد له تیښتې او د مزدور رژیم له ړنګیدا وروسته کابل د « بنسټ پالو » لاسونو ته ولویده او د امریکا د هیلې خلاف وو ځکه نو امریکا له افغانستانه لاس په سر شوه خو افغانستان له هغه وروسته شپږ کاله د کورنۍ جګړې په اور کې وسوځید . اقتصادي بنسټ یې ړنګ او هیواد د اړو دوړ او انارشۍ په تاناکېوت تر دی چې د افغانانو مغرور روح راویښ شو او د طالبانو په څیره کې یې نه بواځې دا چې طاغوتي ځواکونو ته ماتې ورکړه بلکې هلته یې د بوه

مستحکم مرکزي حکومت ډیره هم کیښوده چې بواځې دریو هیوادونو سعودي عربستان، پاکستان او متحده عربي اماراتو په رسمیت پیژندلی دی لویدیځې نړۍ او امریکې تر اوسه پورې نه بواځې چې دغه حکومت په رسمیت نه دی پیژندلی بلکې د شیخ اسامه بن لادن په پلمه کولو مرد یې د افغانستان په خلکو وژونکې اقتصادي بندیزونه هم لګولي دي په وروستیو ورځو کې خو لا داسې ګنګوسې هم دي چې امریکا بو ځلې بیا په افغانستان باندې برید ته ځان چمتو کوي که دغه ګنګوسې ریښتیا وي نو دا د امریکا پر بې وسۍ او بې بصیرتۍ باندې پوره دلالت کوي د پاکستان او افغانستان په اړیکو کې تل ترینګلتیا داسې وه چې که یې له بوې خوا حکومتونه بو له بل سره تورن بریښ وو خو ملتونه یې سره غاړه غړي وو بو څه چې ډیر ښکاره دی هغه دا دی چې پاکستان هیڅکله هم د افغانستان په اړه حقایق په نظر کې نه دي نیولې بلکې خپله بهرنۍ پالیسي یې تل د نورو فکتورونو له مخې عیاره کړیده پاکستان هغه مهال له ښه منطق نه کار واخیست چې د طالبانو حکومت یې په رسمیت وپیژانده اوس چې شمالي ټلواله د خپل ژوند وروستی شپې او ورځې شماري او طالبان د پنجشیر نیولو ته ورزې ځنډي نو په دغسې حالت کې د پاکستاني حکومت دنده ده چې د ځمکنیو واقعیتونو په نظر کې نیولو سره په فعالو ډیپلوماتیکو اړیکو لاس پورې کړي . د پنجشیر په نیولو سره په طالبان وتوانیږي چې په بو مخیزه ډول باندنیو لاسوهنو ته ماتې ورکړي هغه لاسوهنې چې په ۱۹۷۹ کال کې د شوروي له مداخلې نه پیل او اوس تر دوشنبې پورې محدودې شویدي. طالبان په خپل بې ساري ثبات سره وتوانیدل چې د نړۍ ټولو طاغوتي ځواکونو ته ماتې ورکړي د خپلو مخالفینو په ټکولو کې چې هغوی له کومې فوځي ستراتیژۍ نه کار اخیستی هغه نه بواځې دا چې ډیره حیرانونکې ده بلکې د ستاینو وړ هم ده واقعیت دا دی چې افغان غیور ملت هغه بې ساري کارنامه ترسره کړیده چې د هغې په وړاندې نه اقتصادي منطق کار کولای شي او نه عادي جګړه ایز اصول او قواعد . دغه هیواد چې اقتصاد یې له بوه مخه خراب شویدی حکومت یې له څو زرو او له کاره لویدلو جنګي ماشینونو پرته نور هیڅ څه هم نه لري. په ډیپلوماتیک ډګر کې ورته ټول خلک تیره په لاس ولاړ دي او د نړۍ ستر ځواکونه یې په ښکاره ډول دښمنۍ ته ملا تړلې ولاړ دي خو له دې هر څه سره سره دغه ملت د خپل ایمان لښته نه ده ډیره ایښې او د هغه لوی ځواک په ویناو توکل باندې پاتې چې په وړاندې یې ټول ځواکونه سرټیټي دي. ریښتیا هم دا هماغه سړۍ دی چې افغانانو مونږ ته راښودلی په دې شرط چې مونږ یې هم زده کړو .

د شعر او ادب نړۍ

چي کشور د افغانانو معطر کا
د هر بیت مصرع مي زلفي د خوبان کړي

بیداد خزان

این حریفان که به بیداد خزان ساخته اند
خون صد لاله، خونین به جوي باخته اند

نقش فتحي که درین پرده به تمثیل کشند
موج لرزان سراب است که پرداخته اند

نفس کوره، حداد ندیده تن شان
آهن اب ندیده اند و نگداخته اند

عزم از اول ره جانب ترکستان بود!
جمعي در وادي بطحا به گمان تاخته اند

خجلم پیش تو اي میهن اي پیکر درد
تیر صد تفرقه بر سینه ات انداخته اند

رایت فتح سپردند به عدوان جهاد
پرچم ذلت خویش است که افراشته اند

مژده

عبدالبصیر عبرت

ښه ورته څېرشه اي لېدونکي ړنده
د دي زلمانوتاند پاڅون وګوره
اي بي احساسه اوغټ سترګي ښه‌ا
د دي پېړۍ روښان بدلون وګوره
دمقدس لمر نه منکرشب پرک
هېڅوک وپاند دپلوشو نه بولي
چي شي مجبورنوسترګي پټي نېسي
خوداسي څوک دخلاصېدونه بولي
ته دخېرنواوناپاکوهېلو
ورسېدلوته تېر خرخوي
ته دتېوس اودکارګه په بېه
دهندکش دغرونو سرخرخوي
خودا ارمان دي دي ،شنډشوي واوره
د دي ملت زامن اوس وېښ دي رښتیا
دهر سرکښ په اورمېتوره ایږدي
نه غلامان دي نه وېرېږي له چا
داننګيالي دي دهمت بچوني
ترستوني نېسي دوحشت ښاماران
دخپل هېواد په زرغونه غېږه کي
زغملاي نشي نورسورخولي لېوان
هدف ته خېږي دخپل سرپه زېنو
ښکلي منزل تري هېرېدلاي نشي
دغېه کاروان لکه طوفان دي روان
داستا؟ شپولۍ پي تنخ نېولاي نشي

فیض

حنیف بلخی

بوسیده ایم تا بادب آستان فیض
پیموده ایم دشت و در صد جهان فیض
ابدل مترس از سفر زندگي، چو هست
در گوش نغمه، جرس کاروان فیض
سالك تو دل منه که شنیدیم تا بحال
ره گم نکرده قافله رهروان فیض
ز آغوش بحرقامت موجي نکرد اوج
او را نسیم تا که نشد نردبان فیض
بال هما اگر چه باوج سما رسید
بیرون نگشت از شکن استخوان فیض
عمري حنیف بیخود و از خویش رفته ایم
زان شاخ گل که داد بما باغبان فیض

بلالي بانګ

ناګار

دا به د چاه په رنګ کي رنګ یمه زه
بي کند کچکوله شاه ملنګ یمه زه
دي خو بولي تغافل دناقوس
بلالي بانګ د جرس شرنګ یمه زه
دمي ته نه پرېږدم کاروان په پړاو
بون د پېچومو د ګړنګ یمه زه
د انقلاب شپېلي پر کمه ورته
اسرافېلي غږ په غورځنګ یمه زه
زوښت سرېښت به مي را نشي په تال
باغي نغمه د چم د ننګ یمه زه
ساتم سکروټي زماني، زماني
ابره د تلباتي پتنګ یمه زه
قسم که خوښ رهبانیت کرم پدي
چي ستړي شوي له پاک جنګ یمه زه
بوي له څواني مي د باروتو دورمي
ګوره لونګ نه یمه سنګ یمه زه
سور او تور بوت راته بوه معني ده
خلبل په څلو د پړنګ یمه زه
«ناګاره» دا ده څه شوخي د مقام
نه د حمزه نه د بېرنګ یمه زه

مسکا

سحر

آسمان خوشحالي وکړي چي ارمان مي کړي نېمګړي
جانان هم په خنداشو چي ګمان مي کړي نېمګړي

رقیب خوهرڅه وکړوخوبه خوابي بري نشو
چي دادناسوري زخمو درمان مي کړي نېمګړي

وخت باره ته ورکوي سبق خلاف زما دمي
چي لږغونډي مونډلي اطمینان مي کړي نېمګړي

مسکابه مي دژوندپه سپېروشونډ و خوره کړي
که بارښي په مسکا اوښکي باران مي کړي نېمګړي

که ترس مي دلېلي لږ په حالانو دجوړ شو
شاید چي میشته توب دېباړ مي کړي نېمګړي

سپېرلي به مي سحره په ګلشن دهېلو راشي
دبرژردي، ... مي کړي نېمګړي

د عامي روغتیا وزیر ملا محمد عباس آخند

د لومړي مخ پاتي

مونږ له هغو موسسو نه چي د ملاریا د ناروغی د له منځه وړلو ژمنه یې کړې غواړو چي په عملي اقدام لاس پوري کړي

مونږ د ملاریا د ناروغی د له منځه وړلو لپاره بشپړ تیاری لرو

د عامي روغتیا وزارت معین محترم شیر محمد عباس ستانکزی

روغتیا د وزیر په شمول د کابینی یو زیات شمیر غړو او امارتی لوړ رتبه چارواکو همدارنګه د ملګرو ملتو اړوند د یو زیات شمیر خیریه موسسو مسولینو او کارکوونکو ګډون درلود.

غونډه د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په لوستل کیدو سره پیل شوه .

وروسته بیا د ملاریا او لشمانیا د انستیتوت رئیس محترم داکتر ملنګ مسلم ددغه انستیتوت د فعالیتونو په باب خبری وکړی بیا د عامی روغتیا وزارت معین محترم شیر محمد عباس ستانکزی او ددغه وزارت د وقایوی طب رئیس محترم ډاکتر آغا ګل دوست په وار سره خبری وکړی او د ملاریا د ناروغی د له منځه وړلو په باب یی خپل تیاری څرګند کړ .

وروسته په کابل کی د یونیسف د دفتر مسئولی محترمی میرمن انوجا د خپلو خبرو په ترځ کی د عامی روغتیا په نوښت او د نړیوالو موسسو په مرسته په افغانستان کی د RBM د ناروغی د له منځه وړلو په لاره کی د عملی ګام اخیستو د پیل کیدو له امله مبارکی وویله او د امارتی چارواکو د تیاری او همکاری له امله یی خوښی څرګند کړه .

بیا په اسلام آباد کی میشت په افغانستان کی د نړی د روغتیایی سازمان د ملاریا او لشمانیا د څانګی مسئول محترم ډاکتر مصطفی کمال د موضوع په اړوند په تفصیل سره خبری وکړی همدارنګه د کابل ولایت د مرستیال له خبرو وروسته د افغانستان د اسلامی امارت د عامی روغتیا محترم وزیر ملا محمد عباس اخند د هیواد په مرکز او ولایتونو کی د روغتیایی فعالیتونو په رابطه او د ملاریا د ناروغی د له منځه وړلو په اړوند وینا وکړه،ده د خپلی وینا په یوه برخه کی وویل : زمونږ هیواد وال په نورو ستونزو برسیره له روغتیایی ستونزو او له دی جملی څخه د ملاریا په ناروغی اخته دی. د تیرو ناوړه پیښو او د روغتیایی مرکزونو د له منځه تللو امله زمونږ وقایوی سیستم فلج او ددغی ناروغی د زیاتی پرمختیا سبب شوی دی.

ده زیاته کړه : اوس ددی وخت رارسیدلی چی په پروګرام کی شاملی موسسی په عملی اقداماتو لاس پوری کړی. د عامی روغتیا وزارت له خوا د ملاریا د انستیتوت رئیس محترم ډاکتر ملنګ مسلم د ملاریا د ناروغی د له منځه وړلو د غورځنګ د مرکزی مسول په توګه ټاکل شوی دی او مونږ له هغو موسسو نه چی ددغی ناروغی د له منځه وړلو لپاره یی ژمنه کړی غواړو چی په عملی اقداماتو لاس پوری کړی او تر پایه پوری دغه پروګرام د عامی روغتیا له وزارت سره تعقیب کړی.

ده زیاته کړه چی د عامی روغتیا وزارت او د هغه منسوبین د هیواد په مرکز او ولایتونو کی له دغو موسسو سره د مرستی په لاره کی هر راز تیاری لری. د افغانستان اسلامی امارت له ټولو نړیوالو او غیر حکومتی موسسو او سازمانونو څخه چی د ملاریا د ناروغی د له منځه وړلو په کار کی بی اقدام کړی دی قدردانی کوی او د لوی خدای له دربار نه د هغوی د لازیاتو بریالیتوبونو هیله کوی . د غونډی په پای کی په افغانستان کی د ملاریا د ناروغی د له منځه وړلو پریکړه د وقایوی طب د رئیس محترم ډاکتر آغا ګل دوست له خوا ولوستل شوه .

سید یوسف

داصحابو دژوند پلوشي

مؤلف : دکتور عبدالرحمن رأفت باشا - مترجم : بشار　　۳۹

ای دالله رسوله اپلارهلاک شو،اوسرپرست غایب شونوته له ماسره احسان وکړه ، الله به تاسره احسان وکړی.

الهی پیغمبر پوښتنه وکړه چی هغه څوک دی ؟

هغی وویل :عدی بن حاتم

الهی پیغمبروویل :

هغه چی له الله اودهغه له رسول څخه یی تیښته کړی ده

بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ورڅخه لاړاوهغه پریښودله .بیا چی سباشونوورته راغی اوهغی ورته خپله پخوانی وینا بیا وکړه اوهغه هم دپخوا په شان ورته وینا وکړه .

بیا چی سباورځ شوه نوبیاورته راغی ولی په دغه ځل چی هغه مأیوسه شوی وه څه یی ونه ویل .

په دغه وخت یوسړی هغی ته اشاره وکړه چی ورته ودریږه اوخپل عرض ورته وکړه نوهغه ودریدله او ویی ویل:

ای دالله رسوله اپلارهلاک شو،اوسرپرست غایب شونوته له ماسره احسان وکړه ،الله به تاسره احسان وکړی .

الهی پیغمبروویل:

په تحقیق ماوکړ.

هغی وویل:

زه غواړم چی په شام کی دخپل اهل سره یوځای شم.

الهی پیغمبرورته وویل :

مګرته دوتلو تلوارمه کوه څوچی له قوم څخه داسی څوک ومومی چی ستادباور وړوی اوتاشام ته ورسوی .کله چی تاداسی اعتمادی شخص پیداکړنوماته خبرراکړه؛

کله چی رسول الله صلی الله علیه وسلم ورڅخه لاړ،نوهغی دهغه سړی په باب چی هغه ورته درسول الله صلی الله علیه وسلم سره دخبرو کولو اشاره کړی وه پوښتنه وکړه .نوورته وویل شول چی هغه علی بن ابی طالب رضی الله عنه ؤ بیاهغه هلته پاتی شوه ترهغه پوری چی یوټولګی پراوښانو سواره راغلل اوهغی په دغه ټولګی کی داعتماد سړی وموند، نورسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او ورته یی وویل :

ای دالله رسوله ازمادقوم څخه یوه ډله خلک راغلل اوهغوی داعتمادوړکسان دی .

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته جامه ،دسورلی یوه اوښه اوپه کافی اندازه دلاری خرڅی ورکړی اوبیا هغه دډلی سره روانه شوه .

عدی وویل :بیامونږدهغی دخبرونوڅارنه کوله ،اودهغی دراتګ انتظارموکاوه ،اومونږلا په هغه خبرچی مونږته دهغی سره دمحمد دښیګڼی کولوپه باب راکړشوی ؤباورنه کاوه ،اودازماپه هغه دریځ چی مادهغه په مقابل کی درلود .په الله سوګند ، زه پخپل کورکی ناست وم چی یوناڅاپه می یوه ښځه په کجاوه کی ولیدله ،اوزمونږپه لوری راروانه وه نوماوویل :ګوندی دحاتم لوروی ،بیاچی ماوکتل هماغه وه .اوکله چی هغه زمونږپه مخکی ودریدله نوسمدلاسه یی دغه خبره وکړه :

دصله رحمی پریکوونکیه ظلم کوونکیه ... تاخپل اهل اوزوی دځان سره کړل اودخپل پلارپاتی کسان اوناموس دی پریښود .نوماورته وویل:ای خورکی اته بیله خبره بل څه مه وایه .

بیا مادهغی دپخلا کولو خبری کولی ترهغه چی پخلاشوه اوبیاهغی ماته خپله کیسه وکړه اودهغی ویناهغه سره چی مااوریدلی ؤهو به هوبراپره وه .نوماورته چی ــ یوه پوهه اوهوښیاره ښځه وه ــ وویل :

دسړی دمحمد صلی الله علیه وسلم د په باب ستانظرڅه دی ؟

پاتي لري

په هیواد کې د ...

دی وغوښتل چې له دې وروسته د داسې ولې تر څنگ ونه دریږي چې د خپلو هیوادوالو د کړاونو او مصیبتونو د زیاتوالي او د جگړې د دوام سبب کیږي.

دغه راز په دې مطبوعاتي کنفرانس کې محترم قوماندان عبادي، محترم قوماندان سجادي، محترم استاد سید محمد، محترم استاد حاجي اغا ناطقي او محترم سید میرزا حسین فکور، جهادي قوماندانانو او د محترم استاد محمد اکبري استازو د بوسلواوه دیرشو تنو بندیانو د خلاصون په باب د عالیقدر امیر المومنین د شفقت له امله قدرداني وکړه او څرگنده یې کړه چې شیعه خلک نه یوازې خپل مذهبي مراسم په آزادانه ډول په ځای کوي او له خپلو روا حقوقو څخه برخمن دي بلکې د اسلامي اردو له مجاهدینو سره اوږه په اوږه د اسلامي امادت د دفاع په سنگرونو کې ولاړ دي. دوی د افغانستان د اسلامي امادت د ارزښتونو په دفاع کې د شعیه ورونو هر راز تیاري څرگند کړ.

د اطلاعاتو او کلتور معین ...

کار په دفتر کې په اسلام آباد کې د کانادا د سفیر ښاغلي فیري دیکر کوف په مشرۍ د دغه هیواد له هیأت سره وکتل.

ددغې کتنې په بهیر کې د اطلاعاتو او کلتور وزارت محترم کلتوري معین د افغانستان د فرهنگي او کلتوري جوړښت په هیواد کې د خپرونو د حالت د څرنگوالي او د افغانستان د فرهنگ د ودې ساتنې او پرمختیا په لاره کې د افغانستان د اسلامي امارت د اقداماتو په اړوند څرگندونې وکړې او وې ویل: په دوو وروستیو لسیزو کې په هیواد کې د جگړو د دوام له امله زموږ د خلکو د ژوندانه بیلا بیلو برخو ته تاوان رسیدلی دی چې زموږ د هیواد فرهنگ او کلتور ته زیات تاوانونه اوښتي دي.

څرنگه چې فرهنگ د بشرې ټولنې یوه برخه ده له دې امله له بشري ټولنې څخه زموږ هیله دا ده چې د افغانستان د فرهنگي بیا جوړولو ساتنې او بیاینې په کار کې هر اړخیزه همکاري وکړي.

د کانادا هیواد چې د سپک د سازمان غړی دی هیله لري چې په دې لاره کې له موږ سره مرسته وکړي.

وروسته دغه هیئت چې په ترکیب کې یې په اسلام اباد کې د کانادا په سفارت کې د مهاجرینو د چارو مسوله میرمن لویز کوت او په اسلام اباد کې د کانادا د پرمختیایي پروگرامونو د چارو قنسل ایون دیو شامل دی د افغانستان د فرهنگي او کلتوري جوړښت او په هیواد کې د خپرونو د څرنگوالي په باب خپلې پوښتنې طرحه کړې چې د محترم کلتوري معین لخوا په هره برخه هر اړخیزې او اوږدې څرگندونې وشوې.

د کتنې په پای کې دغه هیأت د کابل موزیم د بیا جوړولو له امله قدرداني وکړه او د خپل هیواد تیارۍ چې د سپک د سازمان غړی دی د افغانستان د فرهنگي میراثونو په ساتنه کې څرگند کړ.

دیپلوماتان ما ...

دیپلوماتان ما باید موازین و قوانین ملي وطن خویش را خارج از کشور اخلاقاً در نظر داشته و نمایندگي هاي سیاسي ما حیثیت اداره پستي را نداشته باشد.

دیپلوماتان ما باید از فهم سیاسي، قوه تحلیل و دید آینده نگري خوب بهره مند باشند.

در این سیمینار یگانه دلیل عدم برسمیت شناختن ا.ا.ا از جانب مجامع بین المللي طي ٤ سال اخیر عدم آگاهي آنها در قبال برنامه هاي ا.ا.ا ارزیابي شد و در زمینه تاکید صورت گرفت تا بعد از این تماس هاي حسن نیت دیپلوماتان ما با دیپلوماتان خارجي گسترده گردد. هکذا به آنها وظیفه سپرده شد تا با تدویر کنفرانس هاي مطبوعاتي، مصاحبه ها و تماس هاي حسن نیت پیوسته جهانیان را از حقایق موجود د افغانستان آگاه ساخته و زمینه هاي سفر آنان را به داخل کشور میسر سازند.

محترم فیض احمد فیض رئیس اطلاعات و نشرات وزارت امور خارجه در سیمینار تاکید ورزید تا بعد از این دیپلوماتان ما از طریق نمایندگي هاي خارجي وزارت امور خارجه زمینه سفر ژورنالستان خارجي را بداخل افغانستان بیشتر از هر وقت دیگر مساعد سازند و درین زمینه وزارت امور خارجه از آنها استقبال شایان خواهد نمود. تا باشد توانسته باشیم از طریق مطبوعات و ژورنالستان خارجي صداي ا.ا.ا را خوبتر به گوش جهانیان برسانیم.

در این سیمینار پس منظر سیاست جاري ا.ا.ا در سطح بین المللي مورد غور و بررسي دقیق قرار گرفت و در زمینه هدایات لازم براي هر یك از دیپلوماتان ما داده شد. قبل از اینکه کار سیمینار خاتمه یابد، ضمن اظهار قدرداني از تدویر این سیمینار محترم نماینده وزارت امور خارجه در شهر قندهار به محترم مولوي عبدالرحمن زاهد معین وزارت امور خارجه اظهار داشت که حالا دیپلوماتان وزارت امور خارجه میتوانند کشتي سیاست خارجي ا.ا.ا را به سر منزل مقصود برسانند.

کار سیمینار توسط محترم معین وزارت امور خارجه ا.ا.ا موفقانه ارزیابي گردید.

مهربان

د شهیدانو او ...

کې وکتل.

ددغې کتنې په بهیر کې ښاغلي های د خپلو خبرو په ترڅ کې تیاري څرگند کړ چې زموږ له هغو مهاجرو هیوادوالو سره چې د هیواد په دننه کې د رواني وچکالي او جگړو له امله خپلو کورونو څخه بې ځایه شوي دي مرسته او همکاري وکړي.

په مقابل کې د شهیدانو او مهاجرینو د چارو وزارت معین محترم رحمت الله واحد یار د کانادا هیواد له کمشنر ښاغلي های څخه د مننې په ترڅ کې د هیواد په دننه او بهر کې له افغاني مهاجرینو سره د زیاتو مرستو او همکاریو غوښتنه وکړه.

د بر موسهي ...

د کلیو د پراختیا او بیا جوړونې د لوی ریاست لخوا او د موربا موسسې په همکاري پیل شویدې اتلس زره څلور سوه مکعب متره کیندنې، دوه سوه شپږ پنځوس مکعب متره د دبرو لگول او د اوبو لگولو چینې او کانالونه یکي شامل دي چې د کار له نقشې او پلان سره سم به په راتلونکو څلورو میاشتو کې تطبیق شي.

یوه مربوط خبر ځای وویل: ددغې پروژې په جوړیدو سره د اوبو د کمبښت له پلوه د چار آسیاب ولسوالي د پنځمو خلکو ستونزې او مشکلات لرې کیږي چې البته د کار اجوره د خوراکي موادو په بدل کې د نړۍ د خوراکي موادو د پروگرام د سازمان له لارې تمویلیږي.

ددغې پروژې د کار د پیل په مراسمو کې د کلیو د بیا جوړونې او پراختیا رئیس محترم ملا ملنگ شیرزاد د نوربا موسسې مسؤل محترم انجنیر خطاب او یو شمیر امارتي چارواکو برخه اخیستې وه.

یك بم توي ...

بر طبق گزارش ارنا جنبش مقاومت فلسطین دیروز در عملیاتي دیگري بر اشغالگران وارد آورد که بخشي از جنگ پرسایشي علیه نیروي هاي وحشي و اشغالگر اسرائیل شمرده میشود.

اعضاي مقاومت فلسطین بامداد دیروز بمبي را در مسیر یك کاروان نظامي اسرائیل منفجر کردند که باعث هلاکت دو نفر و مجروح شدن تعدادي دیگر از صهیونست ها گردید که وضع سه تن از آنها وخیم خوانده شده است.

قضات محاکم ...

سخنان عالمانه خویش فرمودند:

در دور حاضر بر مبناي مقتضي حالات و شرایط در سلسله حفظ، حراست و دفاع از دین مبین اسلام به هر فرد مسلمان مسولیت بزرگ متوجه است. اما مسولیت علما امت درین باره بدون شك نهایت زیاد و سنگین میباشد. علماء بنا بر استعداد و توانائیکه دارند باید کار هاي بزرگ و خدمات مهمتر را انجام نمایند، و در کار هاي کوچك و کم اهمیت عمر خویش را صرف نه نمایند، و علما باید همیشه مفاد دیني و اجتماعي را بر مفاد دنیوي و شخصي ترجیح داده و محبت دنیا را نداشته باشند، در کتب شرع علما کرام طبیبان امت وانمود گردیده اند و از دنیا به مرض تعبیر شده است پس طبیبیکه براي خود مرض را اختیار مي نماید براي دیگران نیز اختیار میکند و هم نمي تواند که علاج مردم را بکند.

محترم قاضي القضات در رابطه به محاکم فرمودند: شکي نیست که در حالات حاضر، در محاکم تراکم کار ها وجود دارد، اما اخلاص در کار، و اجراات سالم و بر وقت در کاهش موضعات بسیار موثر واقع میکند بناً قضات محاکم باید در حل منازعات مردم از اخلاق و دقت کامل و سرعت عمل کار گرفته باشند و ما امید واریم اگر اجراات بهمین منوال صورت گیرد آن وقت دور نخواهد بود که ما شاهد کم شدن کار ها در محاکم بوده باشیم زیرا به برکت اخلاق و توجه کامل از یك طرف دوسیه هاي موجود حل و فصل میگردد و از طرف دیگر براي اینده سطح دعاوي و تجاوزات پائین مي آید.

محترم قاضي القضات ا.ا.ا علاوه نمودند: یکي از عواملیکه در کاهش کار هاي محاکم موثر میباشد این است که مردم از دعاوي ناحق خود داري نمایند و دعاوي ناحق زیان دنیوي و هم خسران اخروي را دارا میباشد. در بخاري و مسلم **روایت است که بالاي سعید ابن زید رضي الله عنه زني بنام اروي بنت اوس دعوي نمود که زمین من را به ظلم گرفته است سعید بن زید گفت که من کي این کار را میکنم در حالیکه از پیغمبر «ص» حدیثي را شنیده ام که فرمودند: کسیکه به اندازه یك بلست زمین یك شخص را به ظلم بگیرد آن زمین تا هفت طبقه در گردنش طوق میگردد، ولي آن زن دعوي نا حق خود را ترك نمي نمود حضرت سعید ابن زید مجبوراً زمین متذکره را به آن زن واگذار گردید، و گفت خدایا اگر این زن دروغ گو باشد تو او را کور بسازي و هم او را در زمینیکه بالاي من دعوي نا حق کرده هلاك نمایي در همین روایت ذکر شده که آن زن کور و در همان زمین مدعي بها هلاك گردید. بناً مردم باید به این باریکي ها متوجه باشند.**

د عالیقدرامیر ...

وزیر محترم ملا عبدالرزاق اخند د خبرو په ترڅ کې وویل: له تاسو خوښي شوېو بندیانو څخه د افغانستان د اسلامي امارت غوښتنه دا ده چې نور د اسلامي امارت د مخالفینو په تبلیغاتو ونه غولیږي او د هغوی د لاس الډونه گرځي او د اسلامي امارت له مقاماتو او چارواکو سره همکار و اوسي.

وروسته د استخباراتو د لوی ریاست مرستیال محترم ملا عبدالحق وثیق د اسلامي امارت د مخالفینو ځیري بربنډې کړې او له روسانو او پردیو سره یې د هغوی ارتباطات جوت کړل او وې ویل د افغانستان د اسلامي امارت په چوکاټ کې هیڅ راز قومي، ملي، توکمیز او ژبنې توپیر نشته او مخالفین په ناروا تبلیغاتو سره ځانته فرصت تر لاسه کوي.

وروسته د محترم محمد اکبري استازي له خلکو سره د افغانستان د اسلامي امارت د محترم مقام د شفقت او مهربانۍ له امله مننه څرگنده کړه او هیله یې وکړه چې خوشې شوي بندیان به صادقانه توگه د افغانستان د اسلامي امارت تر څنگ ودریږي او د مخالفینو لخوا ونه غولیږي.

کورس تجدید ...

تکنیشن ها و مسخانیکان ریاست عمومي احیا و انکشاف دهات اشتراك ورزیده اند.

در مراسم افتتاح کورس متذکره هیأت رهبري ریاست عمومي احیا و انکشاف دهات نماینده یونسف در کابل وعده یي از مسوولین آن اداره اشتراك ورزیده بودند.

وزراء دفاع ...

متشکل از شصت هزار نفر باشد و میتواند از جنگ ها و منازعات در اروپا در سال ۲۰۰۳ جلوگیري کند.

به گزارش رادیو بي بي سي تشکیل این جلسه لحظه مهمي در انکشاف نیرو مذکور است زیرا انگلستان فرانسه و المان تعهد خواهند کرد که در تشکیل و تجهیز آن سهم فعال خواهند گرفت.

د کابل ښار د ...

برخمنې شوي.

په هغې غونډه کې چې له همدې امله جوړه شوې وه د کابل د ښاروالۍ رئیس محترم ملا محمد ناصر کبیري او د ښاروالۍ د چارو د ساختماني ریاست اداري مرستیال محترم مولوي گل ولي ثاقب او ددغې سیمې خلکو گډون کړی و.

د گډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتني	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

نخستین قانون بیمه در سال ...

در آغاز محترم ملا عبدالله مدثر گفتند: در سال ۱۳٤۲ بنا بر ضرورت اقتصادي در وطن عزیز ما طرح یك بیمه ملي افغان ریخته شد. در سال ۱۳٤۳ اولین موسسه افغان بنام د افغان بیمي سهامي شرکت تأسیس و شروع به فعالیت نمود چون در آن زمان دولت وقت پرسونل فني و مسلکي که این فعالیت اختصاصي را به پیش برده بتواند در اختیار نداشت لذا در فکر یك کمپني خارجي شده و با کمپني بیمه انگلیس بنام گاردین رایل اکسچینج با اشتراك ٤۹ فیصد سهم خارجي و ۵۱ فیصد سهم افغاني به سرمایه ابتدایي ۱۵ ملیون افغاني این شرکت فعالیت خویش را آغاز نمود.

موصوف اضافه کردند: اولین قانون بیمه در سال ۱۳۵۳ نافذ و به اساس آن سهم انگلیس توسط سهمداران افغاني خریداري گردید. در سال ۱۳۵۸ شرکت سهامي بیمه افغان به شرکت بیمه ملي افغان مسمي و سرمایه آن زیاد شد سهم سهمداران خصوصي توسط دولت وقت خریداري و شرکت خصوصي به یك شرکت انتفاعي خدماتي ملي مبدل شد.

نامبرده افزودند: در زمان جنگ هاي گذشته داخلي به اقتصاد ملي کشور ضربات سخت و سنگین رسیده است. شرکت بیمه ملي افغان نیز ازاین گزند دور نمانده و خسارات هنگفتي را متقبل گردیده است. فعلاً پلانهاي این موسسه آموختن دروس بیموي براي کارکنان شرکت بوده که در آغاز سال کورس مقدماتي اساسات بیموي را براي کارمندان خود فراهم نمود و تماس هاي خود را با موسسات خارجي بیمه مخصوصاً بیمه هاي اتکایي خارجي بر قرار نموده است. با وضع تعزیرات اقتصادي علیه ا.ا.ا فعالیت این موسسه نهایت بطي گردیده است.

محترم مدثر در اخیر اضافه نمودند: تا زمانیکه بیمه اتکایي وجود نداشته باشد شرکت بیمه ملي افغان به تنهایي نمیتواند بدون کدام پشتوانه اتکایي تمام فعالیت هاي بیموي را به تنهایي به پیش ببرد.

بنابر آن این موسسه تا اکنون توانسته است که فعالیت موسسه و سرمایه قبلي خویش را حفظ نماید البته با رفع تعزیرات فعالیت این موسسه را در ساحات مختلف بیموي تسریع ساخته و به آن گسترش خواهیم بخشید.

مصاحبه کننده: عبدالبصیر شاکر

مدرسه «امید» ...

خدمت به افغان و افغانستان ترك نموده و قرار است در اول دسامبر سال ۲۰۰۰ میلادي مصادف به ششم رمضان المبارك به اهتمام و مساعي کمیته انترنشنل فوندیشن آف اپ یك مدرسه عصري را بنام «امید» در وزیر اکبر خان مینه شهر کابل افتتاح نماید.

میرمن کاکړ میگوید: بیش از چهل سال در عرصه معارف اندوخته کاري داشته و درین زمینه سفر هاي خارجي به ممالك اروپایي چون فرانسه، سویس، هالند، ناروي، سویدن و آسترالیا انجام داده است.

نامبرده اضافه میدارد: هزینه مالي این مدرسه از جانب موسسه مزبور پرداخته میشود، وجوه مالي نخستین سال تعلیمي این مدرسه را کمیته متذکره ۱۵۰۰۰ دالر امریکایي در نظر گرفته است.

موصوفه علاوه نمود: فعلاً داخله شاگردان ما یکصد نفر بوده که در سه صنف (اول،دوم و سوم) تدریس میگردند، شاگردان امید را کساني تشکیل میدهد که از لحاظ وضع اقتصادي خانواده هاي شان در حالت بد بسر میبرند، چنانچه ما تصور نداشتیم که طي ۳ روز داخله شاگردان ما به یکصد نفر برسد، البته نصاب تعلیم ما مطابق لایحه وزارت معارف ا.ا.ا پیش برده خواهد شد و شاگردان ما در همین مدرسه الي درجه بکلوریا ارتقاء خواهند نمود.

وي از تسهیلات شاگردان درین مدرسه چنین یاد آور شد: شاگردان ما که عموماً طبقه ذکور مي باشند داراي یونیفورم خاص خواهند بود، آنها در کنار سایر مضامین از آموزش زبان انگلیسي و پروگرام کمپیوتر نیز مستفید میشوند، هکذا تهیه قرطاسیه بدوش اداره مدرسه مي باشد.

مدرسه عصري امید در سرك سیزدهم وزیر اکبر خان مینه عقب مسجد جامع موقعیت دارد.

مهربان

ایالات متحده ...

کیتو جاپان تنظیم کنند تا از این طریق از افزایش درجه حرارت در سطح زمین جلوگیري شود.

بر طبق موافقتنامه کیتو باید از میزان گازات گل خانه که باعث افزایش درجه حرارت در زمین میشوند تا سال ۲۰۱۲ در سطح جهاني پنج اعشاریه دو فیصد کاهش بعمل آید.

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim "Saqeb"
Editor: Ghulam M. Farooq
Printed by: Emirate's Printing Press